
مسافره
پیغله
writer / said adrees / sadat
Ketabton.com
ناول

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

# مسافره_پیغله_ناول

_لیکوال_سیدادریس_سادات#
ترتیب_کوونکی_ږنګ_لیکوال#
ډیزاین_تسکین_خان#
ایمیل:king.adil.rs@gmail.com
مرسته:امجد علي نیازی

دداسی ښکلو ناولونو لوستلو لپاره سادات
کتابتون سره ځانونه جوین کړی په
لاندیلینک کلیک وکړی او جوین شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

لینک:https://chat.whatsapp.com/BKftATVZgh494KdycomZuY

دمشکل په وخت کې دلاندې شمارې سره رابطه کولای شې.

نمبر:0779011816

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

سریزه
مسافره پیغله ناول دا یوه میاشت کیږي
. چې ډیر ورونو یې غوښتنه کوله
دواټساپ او ټلګرام په ګڼو کتابتونونو
.کې زیات ورونه ورته په طمع وو
دادی اوس مې درته اپلوډ کړ ویې
.لولۍ خوند ورنه واخلۍ
.او مونږ پخپلو دعاګانو کې یاد ساتۍ
"ستاسی ورور "سید ادریس سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

ډالۍ!
دا چې نن ورځ زه دکانکور په امتحان کې دپښتو ادبیاتو پوهنځي ته کامیاب شوم .
نو تاسې ټولو ورونو ته مې دشیرینۍ په پار دمسافره پیغله ناول ډالۍ کړ .
ويي لولۍ او خوند ورنه واخلۍ مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

دماسپښین دری بجې وی داوړي
اوږدی اوږدی ورځی او سخته ګرمي
وه.
دڅا مخی ته دری بوقی پرتی وی یوه
می راواخیسته لاستي کی می یي پړی
واچاوه.
. بوقه می څاه ته کوزه کړه
.دګرمۍ مړه خوله راباندی راماته وه
دلاس نه می دڅو ځله رسۍ په خوشی
کولو سره رسۍ دڅاه داوبو تل ته
. ورسیده
.یو دم رسۍ ډیره درنه شوه
ما چی به هر څومره خواري پړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

. کوله
خو نه وچتیده خه وو په لاره یو څو تنه
. لاروي راروان وو
ورناره مى كړه تر څو كومک راسره
.وکړي
هغوي خه وو تكړه وو په ډير زور مو
. دڅاه څخه پړى )رسئ(راكش كړله
هر كله چى بوقه دڅاه سر ته
. راورسيدله
نو ومو ليدله بوقه كى يوه شادي)بيزو
.(ناسته وه
.فكر كووم وړى وه
زما په ګنډه كى لږ څه وچه ډوډئ او
.پياز ايښي ول

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

ټول یي وخوړل.
نور یي راڅخه خولۍ وتختوله.
زه هک حیران شوم چی دا لا څه رقم
موجود دی موږ ورسره خه وکړل
او دی راڅخه خولۍ وتختوله.
شیبه به نه وه تیره چی تکه توره څهره
یي دلری ځایه رابنکاره شوه.
لاس کی ورسره زما خیرنه خولۍ وه.
چی رانږدی شوه ومی لیدل چی خولۍ
یي راته ټوله له جنغوزیو نه راډکه
کړی وه.
واه سخت خوخ شوم ځکه چی یو
حیوان هم داحسان غلام دی .
داوخت نو دخپل جومات دزوړ امام

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

خبره راپه یاد شوه .
هغه به موږ ته اکثر ویل چی تل خه
وکړی هغه که دانسان سره وي یاد
حیوان سره .
که نور څوک مو ګوري یانه هاغه
لوی ذات خو مو ګوري.
او هماغه لوی ذات به یي بدله هم
درکوي.
زموږ کلی زموږ دمهلی په ټولو کلیو
کی تر ټولو لوی کلي وو.
ننګرهار کی یي خلک په ستن نوم
یادوي.
ستن ریشتیا هم چی ډیر خوندور
ماحول خوندور غریبانه ژوند لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

موږ به سهار وختي وخت کی تل تللو دغره څخه به مو لرګي راوړل کور ته.
په همدی ورځ هم زه لرګو پسی روان وم تږی شوم او غوښتل می لدی ځاه څخه اوبه وڅښم.
له همدی ورځی څخه پدی لاره کی زما ددغی شادي سره ملګرتیا جوړه سوه.
زه چی به هره ورځ ورتللم.
ده به زما خولیۍ وړله او د جنغوزو نه به یي ډکه راوړله.
غره کی یوه ونه هم دجنغوزي نه وه خو نه پوهیږم چی دی به داجنغوزي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

کومه کول.
یوه ورځ داختر رخصتي وه زموږ
کلي ته له خار څخه بلها ډیر سیلانیان
راغلي ول.
زه په غره کی د خپلی شادي سره په
لوبو مصروف وم .
داوخت می مخی ته یو لوی موټر
ودرید فکر کووم فورنر وو .دموټر
څخه دپتلون والا انجونی چی یو هلک
ورسره وو راووتل.
زما خواته راغلل دشادي په لیدو بیخي
حیران شول.
زما شادي هم ورڅخه وبیریده خو
هغوي ورته لګه ډوډۍ واچوله نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

شادي هم پوهه سوه چې شر مې نه غواړي خیر مې غواړي.
انجونو ماته وویل :داشادي دې خپله ده که خپله مو وي نو قیمت یې وایه چې درڅخه یې رانیسو.
دانجونو په منځ کې ولاړې انجلۍ مې بیخي فکر ځان ته جذب کړ.
په تندي یې تور خال بیله مزه کوله.
انجونو رباندې ښوځله اواز وکړ ویل یې شادي که مو خپله وي موږ یې اخلو.
ما ورته وویل:داشادي مې ملګرې ده.
اودا چې زه دې غر ته راشم نو دازما لپاره رازي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

انجونو په کټ کټ وخندل زما شادي مندہ کړه شيبه وروسته يي لږ جنغوزي ورته پلاستيک کی راوړل.
خال والا انجلۍ خپلی خور ته وويل:خوری زه هم غواړم دغسی يوه شادي ولرم تر څو خپلی غمجنی خاطری ورته ووايم .
هغه راته داسی ناسته وي لکه وس چی راته داشادي ناسته ده اويوه يوه خبره مو داسی اوري لکه په خبرو می چی پوهيږي.
اوزه چی هر وخت درد منده يم هغی ته په حال ويلو باندی خپل ټول دردونه له خپلی اوږی څخه بنکته کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

ما به خپلی شادي ته په کوکو ویل.
زما کوکو هم کټ مټ همداسی وه هر
کله چی به ورته زه راغلم ده به لاس
دزنی لاندی داسی کیښود لکه چاچی
ورخودلي وي.
بیا به نو ما ورته دخپل نړیدلي ژوند
دهر غم او درد قیصه کوله.
ما په خپلی کوکو باندی غصی هم
کولی.
او سهار وختي به می غره ته ددی
لپاره ځان رساوه چی کوکو به راته په
انتظار وي.
دهغی سره په کیناستلو کی زما
ژوندوو فکر کووم هغه هم همداسی وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

.

ځکه به نو سهار وختي راته دخولی

. جنغوزیو سره انتظار ناسته وه

پدی ورځ دا انجونی ولاړی زما کوکو

به هره ورځ سهار وختي زما په

انتظار ناسته وه.

. یوه ورځ چی راغلم ګورم کوکو نشته

سخت خفه شولم.

ټوله شپه راباندی غم تیره شوه ما ویل

چی نن څنګه نه وه راغلی سبا دکوکو

په ځای راته پوره دشادیانو لښکر

هماغه ځای کی ناست وو خو زما

کوکو پکی نه وه.

چا راته وویل چی روسان کلي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلي وو او دځنګل نه يي څه
حيوانات ويوړل.
او روسان لاتراوسه په کلي کی دي
سبا زي.
په ډيرو پښتنو می دروسانو ځای پيدا
کړ روسانو زموږ.دکلي لاندی ساحه
برکوټ کی يي اړولی وه ..
زه نو خه په بيغمه زړه ورغلم.
خو ددروازی ساتونکو دوه دری کلکی
کلکی سپيړی ووهلم .
او راوبيي ګرځولم .
پوه شوم چی دی ځای ته ننوتل دومره
اسانه ندي.
لری ځای نه ورته په تمه شوم او

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

دموقع انتظار مى كاوه
يو وخت كى عسكر بدليدل.
نو هغه بل چى ولاړو زه دى نوي پسى
ورغلم ورته مى وويل:ورور دلته دننه
مى ورور دى هغى سره مى كار دى .
ويل يي دورور نوم دى څه دى.
هک پک حيران سوم چى وس ورته
څه ووايم.
خو بس دځان نه مى ورته
وويل:هارون دى .
ويل يي سمه ده ورشه.
دننه ډول عسكر ولاړ وو خو بس
ما به ورته ويل چى هارون مى ورور
دى هغى سره مى كار دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

اخر کی یو نفر بل رانه پښتنه وکړه
چی چاسره مو کار وو ما ورته
وویل:هارون سره هههههه
دانفر پخپله هارون وو ویل یي خا څه
خبره وه هارون ته مو څه ویل زه
هارون یم بیخي نو خوله می ودریده.
خلاصه داچی ملګرو ته یي اواز ورکړ

.

او په قید خانه کی یي بندي کړم.
په قید خانه کی تکه توره تیاره وه.
زما سر ته یي توره ټوټه اچولی وه.
هیڅ ځای راته نه ښکاریده داخونه هم
تکه توره وه.
پدی خونه کی نور هیڅ نه وو خو بس

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

ديو ځو انجونو زګيروي اوريدل کيده.

ما چې غوږ ونيو دزګيرويو په طرف

مې ځان لږ څه ورکش کړ چې ورغلم

درې انجونې وې.

ژړل يي نه خو ددرد زګيروي يي

کول.

ما ورته وويل:سلام عليکم

دمقابل لوري نه هيڅ جواب رانغی

بلکې غلي شول بيخي.

ما ورته بيا وويل:زه يي هم راوستی يم

او دې کوټه کې يي بندي کړی يم.

ويل يي تاسې څوک ياست.

خير دی دخدای روي ومنه موږ ددی

ظالمانو نه خلاص که.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

ما ورته وویل :ما دیوی شادي
دخلاصولو هڅه کوله دغه حال می شو
.
که ددری انجونو دخلاصولو هڅه وکم
نو څه حال به می شي .
هههههه
هیڅ ځواب چا رانکړ .
یو څه وخت لپاره خاموشي خپره وه .
خو وروسته بیا یو دوه تنه عسکر
راغلل او یوه انجلۍ یي په زور لدی
ځایه بوتلله.
انجلۍ ماته ډیر عذر وکړ چی ما
ورځینی بچ کړه.
خو هم زما لاسونه تړل شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

. او هم مى دومره وس نه درلود

خو دانتقام لمبو مى په سينه كى ځاى ونيو.

داروسان زموږ دګټى لپاره نه وو راغلى چى زموږ وطن جوړ كړى.

بلكى راغلي وو چى افغانان بى عزته كړي.

دافغانانو غيرت او شمله دخاورو سره خاورى كړي.

تر څو بيا داسى كومه خبره څوك ونكړي چى افغانان دغيرت يو نمونه ده.

ددى هر څه حساب به ضرور . دروسيي هيواد وركوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

دنړیوال قانون له مخی هیڅ هیواد ددی
حق نلري چی په بل هیواد باندی
. دالوتکو له لاری بمبار وکړي
خو هرکله چی روسيي زموږ په
مشرقي کی بمباری کولی نړیوال چپ
.ناست ول
.ددی حساب به نړیوال هم ورکوي
بس خدای دی یو ځل موږ پخپلو پخو
. ودروي
.بیا نو موږ داحمدشاه ابدالي لمسي یو
. او میرویس خان مو غور نیکه دی
د شامحمود په رقم زړور وکمنان مو
.په وطن کی تیر شوي دي
داوینی چی زموږ په رګونو کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

بهیږي.
پدی وینه کی دهماغو سترو ککریو
جوش پروت دی.
بس خدای تعالی دی موږ پخپلو پښو
ودروي بیا ورته ګوره چی خپل غچ
څنګه اخلو.
ددی انجلۍ سره دظلم زیاتي نه
وروسته زما څخه خپله شادي له یاده
ووتله.
بس غټ ارمان می همدا وو.
چی کومه لاره پیدا کړم او دغه رزیل
خلک دخپل وطن نه وشړم.
انجلۍ یي سهار بوتلی وه او مازیګر
یي راوستله او مازیګر یي بله خور

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوتله هغه يي سهار راوستله.
زما لپاره داوخت داسی تیریدلو لکه
کال دوه دری ځلی می خپل سر دیواله
سره ووا هه.
ځکه چی یو خوا نه می ننګ غیرت او
پښتو رانه ډیر څه غواړي او دبلی
خوانه یي راته لاسونه خوله او سر
تړلی وو.
ډیره سخته داسی لمحه که چیرته زما
پر ځای هر څوک وایي نو ضرور به
یي ځان وژلای وو.
خو زما غبټ ارمان داوو چی خالي
لاسونه می خلاص شي.
انشاالله داانجونی می ضرور ځان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

بیولي.
دوه دری شپې وروسته مو دتیختي
پلان جوړ کړ.
. ددوی انجونو مشره خور ثنا نومیده
ما ثنا ته دتیښتی خبره وریاده کړه خو
هغوی راپوری وخندل ویل یي موږ
پوره داځور میاشتی وشو ونشو
تختیدلای او ته دریمه ورځ باندی
تختی.
ما ورته وویل :په ما باور ولره انشاالله
. چی انتقام لپاره وروستو راځم
ددی پوستی یو عسکر رانه خدای که
ژوندی لاړ شي خو نن شپی ته باید چی
وتختو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

کشری خور یي وویل:مادپخوانه
دتیختی یوه منسوبه جوړه کړی وه.
خو خور می راسره نه منله.
انجلۍ وویل:موږ دری تنو نه هره
ورځ یوه وړي.
او هلته یي قومندانان او عسکر دخپلو
لوبو وسیله ورځینی جوړوي.
..هره ورځ مرو او ژوندی کیږو
موږ باید شاوخوا ته سترګي وغړوو
. که چیرته مو کوم چاقو په نظر راغی
باید هغه دلته راوړو.
او ددی ځای عسکر ډیر شراب څښي
دو همه انجلۍ باید شراب راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

اودریمه باید اپیم راوړي.
هو ریشتیا هم داډیره خه طرحه وه.
موږ ومنله چې همداسی به کوو که
چیری تاسی خپل کارونه په خه ډول
سرته ورسول .
نو پوه شۍ چې موږ کامیابیږو انشاالله.
لومړی یي یوه انجلۍ بوتلله هغی دپلان
سره سم چاقو راوړ.
بله والاړه هغي هم شراب راوړل.
خو دریمه داپیمو په راوړلو کی ناکامه
شوه.
ویل یي ما ټوله اشپز خانه او نور ډیر
ځایونه ورپسی وکتل.
خو اپیم می پیدا نکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

سخته وه خو سبا ته په تمه شو.
هر کله چی انجونی بیدیدلی ما ورته
وویل:تاسی راځی نن به ځان واازمایو
چی څه کولای شو کنه.
ویل یي سمه ده.
په چاقو می اول دټولو انجونو لاسونه
ورخلاص کړل.
او دسر د ټوټی پړی می هم پړی
وشکولو.
داوخت یي نو دری واړه خورګانی
همدلته پریخی وي خو بیا هم عسکر نه
خکاریدل.
فکر کووم هلته یي نوری انجونی هم
ساتلی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

خو په کومه ټوټه چې مې سر ترړل
شوی وو.
هغه مې دساتونکی په غاړه کې واچاوه
او ټوټه مې کلکه دزندان په سیخ پوری
وتړله.
نور مې دساتونکی په خوله کلک لاس
کینښود دچغو کوښښ يې کاوه .
خو ما پرینښود .
انجلۍ نه مې شراب واخیستل ټول مې
ورته په سر واړول.
عسکر هم نشه شو.
اواز يې خف شو.
همدی عسکر به انجونی په زوره لدی
ځایه وړلی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

سخته غوصه می ورته راغلی وه.
جابی می یي دجیب نه راوباسله.
دزندان دروازه می خلاصه کړه.
عسکر چی می ولید یو رقم بل ډول
ستایل یي وو.
سره غټ غټ بریتونه دویختانو نه یي
ګیری ته یو غټه لیکه لکه دسپوږمی
پشان تاوه شوی وه.
سور مخ یي وو.
دانجلۍ نه می چاقو واخیست ورته
ومی ویل تاسی هاخوا وګورۍ.
همدلته می مردار کړو.
په قلار قلار وخوځیدو .
خه وو ټول عسکذر په خپلو نشو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تماشو ډوب وو.
ماته هم څه درس حاصل شو .
چی دوی دشپی ناوخته وخت کی نشه کي وي.
او که هر څوک پری حمله وکړي.
نو ختمیدلای شي.
دبیرون خالي دوه عسکر پیری ته ولاړ وو.
انجونو وویل :چی دوی هم په موږ مصروفولای سو.
او وتی شو تری
ما ورته وویل :نا همدومره بی عزتي مو چی وشوه همدا بس ددی نه وروسته به انشالله دیوی افغانی خور

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

عزت هم نه لوټل کیږي.
ما ورته وویل :ماسره یي لاره شته
تاسی یي خالي تماشه کوئ.
تاسی به داسی وکړئ چی عسکر
څنګه بلی خواته ولاړل.
سیده به راووزئ سمه ده.
او دیوی انجلۍ نه می تور پړونی
واخیست.
پړونی می دسر نه تاو کړ دلری ځای
نه می عسکرو ته غږ وکړ .
لیوه لیوه .
عسکرو منډه کړه زما د پلان مطابق
انجونی راووتلی عسکر لاړل دلیوه
خواته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

او موږ راغلو خپل کور ته.
ها ما دخپلی کورنۍ خبره نه وه کړی .
زما کورنۍ دامهال وړه نه وه بلکی
زما دغور نیکه پلار هم ژوندی وو او
هغه د125 کالو وو.
موږ ټول په یو لوی کور کی اوسیدلو
او اتفاق نو بیا زموږ دخلکو ټولو
افغانانو ته څرګند دی.
غور نیکه می داسی حساب
دماشومتوب نه جوړ کړی وو چی هره
انجلی یا هلک به پیدا شو .
بس هلک ته به یي انجلۍ ور مبارکه
کړه .
ماته یي هم یوه په نوم کړی وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی زما او دهغی نیکونه سره ورونه ول.
زه پدی انتخاب تر دی مهاله هیڅ خفه نه وم .
خو خفه دیته وم چی مشران می ډیر زیات دي او که چیرته دادری ځوانی انجونی په خپل پوره کلي ورننباسم.
نو دبد نامۍ اوربه می ډیر ژر غاړه پری کړي.
ځکه چی یو خو پښتو ده او بل ماته یي اول نه یوه انجلۍ په نوم کړی وه.-
هغی انجلۍ به څه ویل:خو دډیر فکر وروسته می انجونی خار ته روانی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

انجونی پخپله دغزني وی.
خو چی جیب ته می وکتل هیڅ روپۍ
راسره نه وه.
پریکړه می وکړه چی انجونی به
همدلته دچا کور کی پریږدم .
زم کور نه پیسی راخلم .
بیا به ولاړ شو .
همداسی می وکړل خو ډیره ناوخته
شوه دسهار رڼا په هره خوا خوره شوه
موږ هم خار ته نږدی وو.
ډیر ژر خار ته او سیده خپل ماما کره
ولاړم.
ماما می خه سړي وو.
زما دملګري پشان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

خو حی زما يي داحال وليد خفه شو.
ډير زيات خفه شو.
ويل يي خورينه نو پردۍ تور سری
دی دخه لپاره راتختولی.
ماورته وويل:ماما جانه ته ولی په ما
باور نلری.
داانچونی ما راتختولی ندي ثنا هم ورته
وويل:هو وروره دی ځوان خو موږ
دبی عزتۍ نه بچ کړو.
ماما می ډير په سختۍ قانع کړ.
که ريشتيا ووايم زما چی کومه انجلۍ
په نوم وه .
زما هيڅ نه وه خوخه ځکه خاموشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

انجلۍ وه.
هيڅ کار کی به يي زما کار کی نه لرلو.
هيڅ به راسره نه ګرځيدله.
او نه به يي هم دمينی خبری کولی.
بس دنفرت خبري ورته ډيری خی يادی وی هر وخت به يي ويل چی پلار می ډير سخت سړی دي.
او ډوډۍ کی رانه مالګه لګه زياته سوی نه وي بيا په غوصه وي.
په وړو وړو خبرو غوصه کيږي او نن خفه يم نن درسره بيرون نسم تللانی.
بس په ورين تندي راسره نه مخامخ کيدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

ما چی دڅه وخت نه خپله نامزاد لیدلی
وه دانجونو دنوم نه می نفرت راتللو.
ځکه هغه ډیره دغم نه ډکه وه او
دخوشحالۍ هیڅ څرک پکی نه وو.
داشپه اورځ مو دماما کره تیره کړله.
په سبا می ماما راغی ویل یي پاڅه
علي پاڅه .
زه په بیړه له خوبه راپاڅیدم.
ما ورته وویل:ولی ماما څه درپیخه ده
.
ویل یي ستاسو په کلي بیګاه دشپی
ناوخته روسانو بمبار کړیدی.
او ویل کیږي چی ستاسو کلي کی ډیر
کم نفر ژوندي پاتی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

زما ستوني وچ کلک شو نوره می
خبره دخولی نه راونه وته.
. رپا ونیولم
. خپله زبیده می رایاده شوه
پلاړ جان مور جانه نیکه جان ټول قوم
یو یو نفر می سترګو ته سترګو ته
کیدل.
انجونی می همدلته ته پریخودلی او زه
په منډه موټر کی کښیناستلم.
دماما خپل موټر وو هغی کی روان
. سوم
ډیر په بیړه می ځان تر خپل کلي
ورساوه.
خو چی ومی لیدل دکورنۍ ټول غړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

.مى هاخوا ديخوا مړه پراته وو

.دومره څوک نه وو

.چى دوى يي خاورو ته سپارلى واى

بس په ټولو خپلو کى مى يوازى دغور

.نيکه پلار ژوندى وو

دانو دقدرت فيصله وه چى چاته مرګ

ليکى او چاته ژوند ماما او يو څه نور

.خپلوان راغلل

بس جنازوته مو بغير زما او دماما نه

.نور هيچا هم ونه ژړل

مامى خپل دغور نيکه پلار چى خبرى

يي هم نشوى کولاى خو ددرد اندازه

.يي کيدله

موټر کى واچاوه او ښار کى مى خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

دماما کور ته راوستلو.
نیکه می سخت خفه وو خو ثنا دوی به
ورته تسلیت ورکاوه.
موږ چی هرکله مو جنازی خاورو ته
وسپارلی.
زه په خپل موټر کی راروان شوم
دخپل ماما سره خار ته خو په برکوټ
کی یو ځل بیا دطیارو خکار شو .
دطیارونه ډزی شروع شوی ما
هوښیاري وکړی دموټر نه کیوتم او
دیو غټ ګټ لاندی می ځان واچاوه.
ماما اونورو خپلوانو ته می هم چغی
وکړی چی راشي خو بیریدل .
داوخت طیارو په موټر غټ بم

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

راوغورځاوه.
اوموټر سره دماما زري زري شو .
ما زړه دخلاصه چغي ووهلی .
دخپل خدای نه می ګیله وکړه چی ای
خدایه دازما دکومی ګناه سزا ده.
دژوند نه زما هم زړه مات شوی وو.
طیارو مخی ته ودریدم ما ویل پریده
چی ختم می کي سترګی می پټی کړی
وی.
خو نه پوهیږم چی ولی طیارو ما باندی
یو ډز هم ونکړ.
او پنا شوی .
بس دهمغی ورځی نه وروسته می
دمرګ ډار ورک سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

ځکه چی که تقدیر کی دی مرګ نه
وي لیکل شوی نو دچا هغه پلار دی
هم نشي وژلای.ما دهمغی ورځی نه
. ټوپک په اوږه کړ
او دا می قصد شو چی ددی وطن نه به
.روسان وباسم

.زه په ننګرهار کی دعلي په تمه وم
.چی علي به کله رازي
. خو علي بیخی ورک سو

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

خه وو دری ورځی وروسته راغی او
ويي ويل چی روسانو اطرافو کی يو
کلی هم ندی پريخی او ټول يي بمبار
کړيدي.
او زۍ چی ځو پخير پيخور ته علي
خپل غور نيکه په شا کړ او موږ
ورپسی شو.
خه وو تر اطرافو پوری موټر کی
ولاړو خو هغی نه وروسته علي ځان
سره يو ملګری راوستی وو.
هغی ته يي موټر حواله کړ.
نور نو موږ پياده روان شو علي ډير په
سوچونو کی ډوب و ما ورته
وويل:ګوره علي دازموږ قسمت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

چی پاکستان ته روان یو.
او هغه هم ستا قسمت وو چی کورنی
دی ټوله په حق ورسیده .
علي ددرد نه ډکه موسکا په خوله
راوستله .
ویي ویل :موږ افغانان هم عجیبه خلک
یو .
چی څه مو دوسی نه بره شي .
بیا یي په قسمت ور تاوان کړو.
څومره خوږ ژوند و زما هر سهار به
می نهه بجی ځان خپلی کوکو ته
ورساوه.
دمازیکر په خوندوره هوا کی به
زبیدی منګی په سر کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

شینکي لمر به یي دزنی دری خالونو
ته سمه ځلا ورکوله.
زه به ورته دګودر بلی غاړی کی
نندارې ته ناست وم.
ریشتیا هم زه ډیر ناشکره یم ریشتیا هم
سترګی یي تکی سری شوی ګوتی یي
ورته ونیولی یو شیبه په ګونډو
کښیناست.
ددرد سلګۍ یي ووهلی ماته یي هم ژړا
راوسته سخته یي وژړولم.
موږ دری خویندی بی سر نوشته
راونی وو پاکستان ته هیڅ سر نوشت
مو نه وو معلوم
چی راتلونکی کی به څه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

مور خبر نه وو خو یو دم مو مخی ته عسکر راووتل.
یو دم یي وویل :دوست یا دشمن علي بغیر دسوچه یي دخولی ووتل دشمن چغه شوه هورا.
خو دا وخت یو ځوانه انجلۍ دشاخوا نه راغله سړی ته یي دپخو په ورون لاس وواهه ورته ویي ویل:دوست دوست بس خه وو عسکرو علي ته هیڅ ونه ویل:خو بس دځان سره یي بوتلو .
مور ته علي وویل :چی دا خلک چی کمسی روان دي هماغسی تاسی هم ورزئ.
زه انشاالله ددی خلکو نه ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

خلاصووم او درزم.
او خپل نیکه یي ماته را په اوږه کړ .
اوف څومره درونند وو هغه سړی الله
تعالی دی راته ښنه وکړي زه چی لږ
مخکی ولاړم نور می داسړی نشو
وړلای.
بس همدلته رانه پاتی شو ځکه چی نور
خلکو منډه وهله.
په اطرافو کی یو کلی هم داسی نه وو
چی بمباري پري نه وي شوی.
ټول کلي بمبار شوي وو .
روسانو فکر کاوه چی که چیرته
داطرافو کلي بمبار کړو نو خاریان
خو هڅی هم جنګ نکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

ځکه دخار خلک دومره زړه نلري.
بس وطن يي راته کندی کپړی کړ خو
هييځ نړيوال سازمان يي تر اوسه
پوری پښتنه ونکړه.
ولی چی زور ولری نو نړی ټوله ستا
ده بيا نو نړيوال سازمان پکی لا چا
راوستی.
سکندر بابر او فرعون ټولو زور
درلود چی په نړۍ يي خپله حکمراني
کوله او په ټوله نړۍ کی يي خپل
رواجونه مروج کړي ول.
وس امريکا او بريتانيا زور لري چی
په ټوله نړۍ کی يي خپل رواجونه
مروج کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه پېن شرټ کول نیکټایي اچول کیره
خریل ویختان نیمايي سر کمول او
نیمايي نه کمول
او ډیموکراسي
او بریتانیا زور لري چی انګلش یي
دنړیوالی ژبی په توګه په هر نامرده
منلی ده.
داټول هغه څه دی چی دزور په
واسطه په ټولو نړیوالو منل شوي دي.
لکه څنګه دلوی احمد شاه بابا په وخت
کی په هندوانو دپښکي وهل منل شوي
وو دګیری پریښودل منل شوي وو په
دا زمونږ رواجونه دي .
او رواج په هنري ډول په یوه ټولنه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

خپرېږي.
لکه درسنيو په تبليغاتو دځوانانو په
عصريتوب او د چالاکو خلکو په پيدا
کولو سره او د مهلی دداسی خلکو په
لاس کی نيولو سره په خلکو باندی
خپل رواج منلی شو چی دهغوي نظر
ته ټول وطن او ټول قوم اخترام لري .
لکه ليکوال ژورناليست او دپوهی نه
ډک انسان.
موږ پاکستان ته ولاړو خو غټ ارمان
می دهغی نه وروسته داشو .
چی يو ځل علي ووينم .
او ورته ووايم چی ستا پلار رانه په
لاره کی پاتی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

خدای خبر هغه به می وبښي کنه.
خو که ویي ښځلم ټول کو هاټ کمکول
کیم ته میلمستیا کووم.
خو زه فکر کووم علي یي وژلای دی
ځکه که هغه ژوندی وای نو هرو مرو
دلته راته .
ماسره په کور کی دری پیغلی وي.
ماته علي ویلي وو چی زه دی نه ښځم
که چیرته دی بیا عیاشۍ ته لاس
واچوو.
خو هیڅ لاره نه وه ځکه چی خورګانو
سره می چا واده نه کاوه .
او زموږ هم داسی هیڅ اثره نه وه چی
دخپلی ګیډی غټ دوزخ پری راډک

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

کړو.
بس دهمغی ورځی نه زه او خویندی
. می دمیکدو شولی
موږ خو فکر کاوه چی که سړی دیوی
بنځی سره یوځای شي نو هغی سړي
ته به دسکون احساس کیږي.
خو نه داسی نه وه.
ټول سړیان چی دلته راتلل.
بیرته چی به وتل خفه به تلل.
نه پوهیږم دي کی څه راز دی خو
دومره پوهیږم چی هر سړی ضمیر
. لري
اوامکان لري دوجدان عذاب دا خلک
. هیڅ خوشحالۍ ته نه پریخودل

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

لکه زموږ پشان موږ هم هره ورځ مړه کیدلو او بیرته به ژوندي کیدلو.
زما تمه خالي علي ته وه چی هغه به راشي او موږ دری خویندی به له دی دوزخ نه وباسي.
خو علی تر لسو کالو رانغی .
زموږ ددری خویندو پښتنه مو په دی لس کالو کی نه ورور وکړله او نه پلار.
نه توبه پښتنه یي امکان لري کړي وي.
خو موږ دهغوي څخه ډیر لری وو.
او که موږ یي پیداکړي هم وای نو دمرګ نه بغیر به یي کومه بله ډالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

راته نه لرله.
ځکه یوه فاحشه چې ټول عمر په
میکدو کې دخلکو په اشارو ګرځي
هغه به ځنګه یو چاته ورور وایي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

دناول بلی برخی ته په طمع شی.
نور به يي درته په بله برخه کی نشر کړو.
وس مهال مو ږ دلوی امپراتور ابدالي بابا ناول په ليکنه کی بوخت يو .
دهغی دنشر نه وروسته به دمسافری پيغلی ناول دوهمه برخه نشر کړو مننه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

---

سادات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**